د سوداګریزو پورونو لپاره پرله پسې پوښتل شوې پوښتنې(FAQs)

مهرباني وکړئ هر وخت له مونږ سره په admin@vclf.org او یا 1448-223 (802) خبرې وکړئ!

**د ورمونټ د پورونو د صندق ټولنه (VCLF) کوم خدمات وړاندې کوي؟**

د ورمونټ د پورونو د صندق ټولنه یو ماموریت پرمخ وړونکی، د ټولنې متمرکز بدیل پور ورکوونکی ټولنه ده. مونږ هغو محلی سوداګرو، ټولنیزو سازمانونو او غیر انتفاعي بنسټونو، د ماشومانو د پالنې او زده کړې مرکزونو او د ارزانه کورونو جوړوونکو ته پورونه او نورې سرچینې برابروو چې له دودیزو پور ورکونکو څخه د پور د ترلاسه کولو وړتیا نه لري. مونږ د بېوزلی، عدالت او فرصتونو د ستونزو د حل لپاره نوښتګر مالي حلونه رامنځته کوو او وده ورکوو. مونږ د یوه ځواکمن، سالم او خوشحاله ورمونټ په جوړولو کې پانګونه کوو.

**ایا تاسو د ژباړې خدمتونه وړاندې کوئ؟**

هو! مونږ موخه لرو چې هرڅوک د خپلې خوښې ژبې کې د VCLF خدماتو ته لاسرسی ولري او د مرستې لپاره به هر هغه څه وکړو چې مونږ یې کولی شو. تاسو کولی شئ زمونږ د پور ټیم سره په admin@vclf.org یا 1448-223 (802) له لارې اړیکه ونیسئ او مونږ ته خبر راکړئ.

**د خپلې سوداګرۍ لپاره څومره پور ترلاسه کولای شم؟**

اوسنی اعظمي اندازه د لومړي ځل پور اخیستونکو لپاره $350,000 ده.

**ایا تاسو نوي پیل شوي (Start-up) سوداګریو ته پورونه ورکوئ؟**

هو، VCLF په منظم ډول د سوداګریو په هر پړاو کې، په شمول د نوي پیل شویو سوداګریو، پورونه ورکوي.

**د VCLF د سود نرخونه او شرایط څه دي؟**

شرایط له څو میاشتو څخه تر شلو کلونو پورې دي. VCLF څو ډوله د پور پروګرامونه لري چې د مختلفو ډلو لپاره ځانګړي د سود نرخونه لري. مونږ اوسني نرخونه په ویب پاڼه کې خپروو. د شرایطو، نرخ او د قسطونو د مهالویش انعطاف؛ د پروژې د ځانګړتیاوو پورې اړه لري.

**ایا د پور غوښتنې لپاره د کریډیټ حداقل نمرو ته اړتیا شته؟**

نه، مونږ د پور غوښتنې لپاره د کریډیټ حداقل نمرو ته اړتیا نه لرو. خو که ستاسو د شخصي کریډیټ ارزونه د تېرو پاتې قسطونو او ټولو حسابونو څرګندونه وکړي، نو تاسو اړتیا لرئ چې مونږ ته وضاحت راکړئ چې دا ستونزې ولې رامنځته شوې او تاسو د دوی د حل لپاره څه کوئ. د دې موضوع په اړه به تاسو د خپل پور لیکونکي سره په تفصیل خبرې وکړئ.

**که زه غوښتنه وکړم نو زما د کریډیټ نمره به اغیز ولري؟**

هو، ستاسو د کریډیټ نمره به هغه وخت اغیزمنه شي کله چې تاسو د پور غوښتنلیک وسپارئ ځکه چې ستاسو په کریډیټ کې (سخته پلټنه) شتون لري. یو سخته پلټنه، چې د سخت تفتیش یا سخت چک په نوم هم پیژندل کیږي، هغه وخت رامینځته کیږي کله چې کوم پور ورکوونکی یا د کریډیټ چک کوونکی ستاسو د کریډیټ راپور وګوري. یوازنی سخت پلټنه ستاسو په ټول کریډیټ نمره کې یوازې یو کوچنی اغیز لري او د وخت په تېرېدو سره به یې اغېز کم شي.

**د پور غوښتنې لپاره څه ته اړتیا لرم؟ که سوداګریز پلان یا د نغدو پیسو اټکل نه لرم، څه وکړم؟**

زمونږ ټول د پور غوښتنلیکونه ؛ زمونږ په ویب پاڼه کې شتون لري. پورونه د هغه د ډول پورې اړه لري کوم چې تاسو یې غوښتنه کوئ، تاسو به اړتیا ولرئ بېلابېل معلومات وړاندې کړئ. د پور غوښتنلیک به تاسو ته ووایي چې څه ته اړتیا لرئ.

زمونږ د عمومي سوداګریز پور غوښتنلیک کې لاندې اسنادو ته اړتیا ده:

- لاسلیک شوی کورشیټ او د پور غوښتنلیک فورمه
- بشپړ سوداګریز پلان چې د سرچینو او مصرفونو بودیجه پکې شامله وي
- د ورستیو درې کلونو لپاره د سوداګریزو مالیاتو راپورونه
- د درې کلونو د مالیې اسنادو تاریخچې (د ګټې او زیانونو راپورونه او د بلانس پاڼې)
- د روان کال د بلانس پاڼه، د ګټې او زیانونو راپور، د ترلاسه کیدو وړ حسابونو او د ورکړې وړ حسابونو وخت
- د دولسو میاشتو اټکل شوي عاید یا د نغدو پیسو د جریان بیانونه
- د شخصي مالي راپور او د هغو ټولو کسانو شخصي مالیاتي راپورونه چې د سوداګرۍ لږ تر لږه 20٪ مالکیت لري
- د غوښتنلیک فیس

که تاسو سوداګریز پلان یا د نغدو پیسو اټکل نلرئ مهرباني وکړئ د سوداګریزو منابعو له مرکز سره اړیکه ونیسئ ترڅو تاسي ته زمونږ د سوداګرۍ له مشاورینو سره د وړیا ناستې مهالویش وټاکئ.

یادونه: د Justice Forward Fund د BIPOC سوداګرۍ مالکینو لپاره تر $ 50,000 پورونه پورې برابروي او د ساده غوښتنلیک پروسه لري.

**زما د پور تصویب به څومره وخت ونیسي؟**

موږ هڅه کوو چې د بشپړ غوښتنلیک ترلاسه کولو څخه وروسته په 6-8 اوونیو کې پریکړه وکړو. په دې کې ستاسو د اړینو او مهمو معلوماتو چمتو کول هم مهم رول لري. د پریکړې له کولو وروسته، تاسو او VCLF به نور ګامونه هم پورته کوئ. لږ تر لږه، د تصویب وروسته 2 اوونۍ وخت نیسي ترڅو پور "بند" شي او فنډونه ترلاسه شي. تاسو کولا شئ د خپل وخت اړتیاوې د VCLF د پور له افسر سره وڅیړئ.

**ایا زه ضمانت ته اړتیا لرم؟**

د هغو پورونو لپاره چې اندازه یې له 10,000 ډالرو زیاته وي، د ثابتو شتمنیو، ذخایرو او د ترلاسه کیدو وړ تضمین ته اړتیا ده. VCLF کېدای شي شخصي تضمینونه، د شخصي شتمنیو ضمانت او یا هم د پور غوښتونکي د همکار څخه د تضمین غوښتنه وکړي.

**د پور د بیا ورکړې بهیر په څه ډول ترسره کیږي؟**

مونږ به له تاسو سره کار وکړو ترڅو ستاسو د بانکی حساب څخه د اتوماتیک اخیستنی (ACH تادیه) تنظیم کړو. که تاسو د پور په موده کې بدلون ته اړتیا لرئ، مونږ کولای شو له تاسو سره مرسته وکړو.

**که د پور د بیا ورکړې په برخه کې له ستونزو سره مخ شم څه وکړم؟**

مونږ تاسو هڅوو چې د (پور) ټیم له یوه غړي سره د لومړنۍ ستونزې د اټکل په وخت کې اړیکه ونیسئ. مونږ به تفصیل خبرې وکړو او د حل لارې موندلو هڅه به وکړو، چې پکې ستاسو د تادیې شرایطو تنظیم هم شاملېدای شي. زمونږ د سوداګریزو منابعو مرکز هم مرسته کولای شي.

**که زه خپل پور له وخت څخه مخکې ورکړم، ایا جریمه به ورکوم؟**

نه، خپل پور د وخت څخه مخکې ورکولو لپاره هیڅ ډول جریمه نشته.

**ایا VCLF د پورونو ترڅنګ تخنیکي مرسته یا لاربښونه وړاندې کوي؟**

هو! زمونږ د سوداګریزو منابعو مرکز په وړیا ډول د هراړخیزې سوداګرۍ پراختیا او مالي مدیریت مشورې وړاندې کوي؛ ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو د سوداګرۍ د بریا لپاره ټول اړین وسایل لرئ. د VCLF ډیر پور اخیستونکي زمونږ له همکارانو سره هم کار کوي:

- د مایکرو سوداګرۍ د پراختیا پروګرام
- د ورمونټ د کوچنی سوداګرۍ د پراختیا مرکز
- د کرنیز اقتصاد لپاره مرکز
- انتروال مرکز
- د ورمونټ د تولیدي پراختیا مرکز
- د ښځو او تصدۍ لپاره مرکز

**څنګه پیل وکړم؟**

تاسو کولای شئ زمونږ په وېب پاڼه کې د پور غوښتنه وکړئ یا د پور ټیم سره په [admin@vclf.org](mailto:admin@vclf.org) او 223-1448 (802) شمېره اړیکه ونیسئ.

**ایا تاسو د پورونو کومې بېلګې وړاندې کولای شئ؟**

موږ د سوداګرۍ، د ارزانه کورونو جوړونکو، ټولنیزو سازمانونو او تاسیساتو او د لومړني پاملرني او زده کړه ایزو پروګرامونو لپاره مالی مرسته برابروو. مونږ د پور پروګرامونه هم لرو چې د نژادي او اقتصادي عدالت، بهرنی تفریح، کرنیز سیاحت او خواړو، فارمونو او ځنګلونو لپاره وقف شوي دي. هر پور د هر پور اخیستونکي د ځانګړو اړتیاوو سره سم تنظیم شوی دی. زموږ په وېب پاڼه کې د (Borrower/ د پور اخیستونکي) ټب وګورئ ترڅو د ځانګړو پور پروګرامونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

**ولې زه مالي اټکلونو ته اړتیا لرم؟**

اټکلونه، په ځانګړي توګه د نویو سوداګریو لپاره خورا مهم دي. دا مونږ سره مرسته کوي چې داډ ترلاسه کړو چې ستاسو سوداګري دومره پلورل کولای شي چې لګښتونه، د مالک د عاید برخه او د پور بیا ورکړه تنظیم کړي. د تېر وخت پلور شاید د سوداګرۍ مالي حالت په بشپړ ډول ونه ښيي. اټکلونه زمونږ سره ستاسو د سوداګرۍ او راتلونکي پلانونو په پوهېدو کې ډېره مرسته کوي.

**ولې تاسو د دیوالي کېدو، د روانو قضیو او د تابعیت د حالت په اړه پوښتنه کوئ؟**

VCLF د پورونو ورکولو لپاره د تمویل ډېرې سرچینې کاروي. ځینې له دې سرچینو د هغو پور اخیستونکو لپاره شتون نلري چې دیوالیه شوي یا په فدرالي پور کې پاتې راغلي وي. مونږ دا معلومات د VCLF مختلفو فنډونو لپاره د وړتیا معلومولو لپاره کاروو.